HUMAN RIGHTS WATCH

# "یوه ورځ به ته ناروغه يې، خو زه به ډاکټره نه یم."

## په افغانستان کې د نجونو لپاره د زده‌کړو وضعیت



**نجونې له ښوونځي څخه د رخصتي پر مهال د کور په لور د روانېدو په حال کې دي، د دوی د زده‌کړو ټولګي د دوی شا ته ولاړې خیمې دي. ګڼه ګونه، د زیربناوو او درسي موادو نه‌شتون، د ښوونکو بېغوري او کمزورې څارنه د دې لامل ګرځي چې ماشومان زده‌کوونکي په خېمو او یا ازاده هوا کې له درسي کتابونو پرته د ورځې یوازې درې ساعته لوست وکړي؛ د دوی لیک‌لوست او درسي چارو کیفیت هم ډېر ټیټ دی.**

©د پاولا برونسټین، د بشري حقونو د څار ادارې لپاره

# لنډیز

د امریکا تر مشرۍ لاندې د ایتلافي ځواکونو له لوري د طالبانو د حکومت له نسکورولو شپاړس کاله وروسته هم نږدې دوې برخې نجونې ښوونځي ته نه ځي او یا ښوونځیو ته لاسرسی نه لري؛ دا په داسې حال کې ده چې د هېواد امنیتي وضعیت مخ په خرابېدو روان دی، ښایي هغه پرمختګ چې ټولې نجونې به ښوونځي ته شاملې شي، چې تر اوسه شوی، په شا تګ بدل شي او په افغانستان کې د نجونو په ښوونه او روزنه کې کموالی راشي.

د افغانستان د ټولو ښوونځیو له ډلې نږدې ۴۱ سلنه یې ودانۍ نه‌لري. ډېر ماشومان له ښوونځیو څخه لرې ژوند کوي، د دوی لپاره د هغوی په سیمه کې ښوونځي نشته چې دې چارې هغوی له ستونزې سره مخ کړي، همدا یو له ډېرو غټو لاملونو څخه دی چې ماشومان له لیک او لوست څخه پاتې کېږي، دې کار بیا په ځانګړې توګه نجونې ډېرې اغېزمنې کړې دي، نجونې ډېری وختونه د ناوړو جنسیتي دودونو له کبله چې تعلیم ته ارزښت نه ورکوي، هم له ښوونیزو پروګرامونو لېرې پاتې شوې او اجازه نه‌ورکول کېږي.

که څه هم په افغانستان باندې د ۲۰۰۱ کال یرغل، پر امریکا د سپټمابر د یوولسمې پېښې په ځواب کې وشو، خو په‌دې یې هم مشهورتیا پیدا کړه چې له ښځو سره به مرسته کوي او د هغوی ژوند ته به خاصه پاملرنه کېږي. د



مرغان د افغانستان د پلازمینې، کابل پر سر الوتنې کوي. پهدې وروستیو کلونو کې د افغانستان امنیتي وضعیت ډېر خراب شوی دی. په هېواد کې جګړو زور اخیستی، د افغانستان ۴۰ سلنه ولسوالۍ د طالبانو تر لاس لاندې دي.
©د پاولا برونستېین، د بشري حقونو د څار اداري لپاره

هغو هېوادونو چاروواکو چې د جګړې په لومړیو کلونو کې یې افغانستان ته د سرتېرو په رالېږلو کې مرسته کړې وه، د طالبانو تر ولکې لاندې سیمو کې د ښځو د ستونزو په اړه غږونه پورته کړي وو.

د ښځو پر وړاندې د طالبانو د پرله پسې ویجاړونکو تېریو له منځه، یو هم له تعلیم څخه د دوی مخنیوی وو. وړاندې تر دې چې په ۱۹۹۶ کال کې طالبان واک ته ورسېږي، د افغانستان د ښوونې سیستم د ۱۹۸۰ او ۱۹۹۰ لسیزو په وسلهوالو جګړو کې له وړاندې سخت زیانمن شوی و. طالبانو د خپلې پنځه کلنې دورې پر مهال د نجونو او ښځو لپاره نږدې هر ډول تعلیم مخه نیولې وه. له همدې کبله کله چې د ۲۰۰۱ کال په پای کې د طالبانو واکمني سقوط وکړ، نوي حکومت او د امریکا په مشرۍ د ایتلاف غړي هیوادونه له دوه بحراني ننګونو سره مخ شول: په یوه سخت بیوزلي هېواد کې د ښوونځي د عمر نیمایي نسل لپاره څه ډول یو نوی تعلیمی نظام جوړ کړي، او له هغو ښځو او نجونو سره څه ډول مرسته وکړي چې د طالبانو په اداره کې له تعلیم څخه محرومې پاتې شوې وې، تر څو دغه خلا بېرته ډکه شي.



د کابل پهدې دولتي ښوونځي کې پر خالي ميدان ولاړې خيمې د نجونو ټولګې دي، پهدې خېمو کې ۶۰۰ نجونې زدهکړې کوي. له خالي ميدانه هاخوا ودانۍ د نړيوالو مرستهورکونکو په لګښت جوړي شوې دي او هلکان پهکې زدهکړې کوي؛ ځينو نجونو ته په دربيم درسي مهال کې چې کله هلکان رخصت شي، اجازه ورکول کيږي چې پهدې ودانيو کې زدهکړې وکړي.
©د پاولا برونستين، د بشري حقونو د څار اداري لپاره

د ولسمشر کرزي تر مشرۍ لاندې نوې حکومت او د هغه نړيوالو ملاتړ کوونکو دغه کار ته په بشپړه انرژۍ او سرچينو اوږه ورکړه. دولتي او غير دولتي موسسو، د بسپنهورکوونکو په ملاتړ د ښوونځيو ودانۍ جوړې کړې،

ښوونکي يې وګمارل، وروزل او نجونو او د دوی کورنيو ته يې لاسرسی پيدا کړ او هغوی يې ښوونځيو کې د شامليدو لپاره وهڅولې. که څه هم په ښوونځيو کې د شاملو شويو نجونو کره شمېره په دقيق ډول نهده معلومه، خو ټول پهدې باور دي چې په مېليونونو نجونې چې ښايي د طالبانو د واکمنی پر مهال له تعليم څخه بېبرخې پاتې شوې وې، له ۲۰۰۱ کال را پهدېخوا يې يوې کچې تعليم ته لاسرسی پيدا کړی دی.

خو دغه لاستهراوړنې جزيي او کاواکه دي؛ په زدهکړو کې د نجونو د برخه اخيستنې په اړه تر ټولو غوره او کره شمېرې هم ښيي چې په ميليونونو نجونې لا هم ښوونځې ته له تګ څخه پاتې دي او ګڼ شمېر نورې يوازې د يو څه وخت لپاره ښوونځې ته تللي دي. هغه اغېزمن پرمختګ چې حکومت او د هغه ملاتړکوونکو ښوونځې ته د نجونو د راکاږلو په لار کې کړی دی، ښه پيل به ضرور وي، خو بشپړ کار نه بلل کېږي.

دا راپور د هغو لويو خنډونو ارزونه کوي چې په ښوونځې کې د ټولو نجونو د شاملولو او د لېسې د دورې تر پايه په زدهکړو کې د دوی د ساتلو پر وړاندې پراته دي؛ پهدې خنډونو کې د دولتي چارواکو او د ټولنې د غړو لهخوا د نجونو پر وړاندې تونپيري چلند، په ماشومتوب کې ودول؛ ناامني او تاوتريخوالی چې د وسلهوالو جګړو او عمومي ناقانونيو له کبله رامنځته شوي دي: چې پهدې لړ کې د ښووني او روزنې پر بنسټونو بريدونه، له ښوونځيو څخه



د افغانستان په مرکز کابل ښار کې په یوه دولتي ښوونځي کې نجونې په خیمه کې زده‌کړې کوي. تر ټولو غوره احصایې هم ښيي چې د افغانستان تر نیمایي لږ ډیرې نجونې زده‌کړو ته لاسرسی لري، خو د هغو نجونو چې عمرونه یې ۱۵ کلونو ته ورسیږي، یوازې دریمه برخه یې زده‌کړې کوي.
©د پاولا برونستین، د بشري حقونو د څار اداری لپاره

نظامي ګټه اخیستنه، تښتونې، تیزابو شیندل، جنسي زوروني، بېوزلي او له ماشومانو څخه د کارګرو په توګه ګټه اخیستل؛ په ګڼ شمېر سیمو کې د ښوونځیو نشتوالی، ناوړه زیربناوې او ښوونځیو ته د درسي موادو نه‌رسېدل، په ښوونځیو کې د ښوونې ناوړه کیفیت، له ښوونې سره تړلي مصارف، د ښوونکو په تېره بیا د ښځینه ښوونکو نشتوالی، اداري خنډونه لکه اساس نمبر او د تبدیلۍ د رسمي مکتوب اړتیاوې او په ښوونځي کې د ماشوم د شاملولو د سن پر سر محدودیتونه، د ټولنې په کچه زده‌کړو په پایښت او رسمي‌کولو کې د حکومت پاتې‌والی، او فساد شامل دي.

## شمېرې

په افغانستان کې ښوونځیو ته د تلونکیو او نه‌تلونکیو ماشومانو د شمېر په اړه د پام وړ توپیرونه موجود دي. د نفوسو د احوال په اړه د ابتدایي معلوماتو د تر لاسه کولو په شمول هر ډول احصایه له ستونزو ډکه ده او کره‌والی یې تر پوښتنې لاندې دی. په ۲۰۱۵ کال کې د افغان حکومت له لوري خپاره شوي راپور کې څرګنده ویلي وو، چې تر ۸ میلیونو ډېر ماشومان ښوونځي ته ځي، د دې ماشومانو ۳۹ سلنه نجوني دي. په ۲۰۱۶ کال کې د پوهنې وزیر اعلان وکړ چې تر هغه مهاله ۶ میلیونه ماشومان ښوونځي ته لاسرسی لري؛ د ۲۰۱۷ کال په اپرېل میاشت

کې بیا د پوهنې وزارت یوه چارواکي د بشري حقونو څار اداري ته وویل چې ۹,۳ میلیونه ماشومان ښوونځي ته ځي او زده‌کړو ته لاسرسی لري چې له دې شمېرو څخه ۳۹ سلنه نجوني دي. دا ټولې شمېرې له مبالغې ډکې دي،



هلکان د افغانستان د کابل ښار یوه دولتي ښوونځي په کتابتون کې مطالعه کوي. نجونې اجازه نه‌لري چې په‌دې ښوونځیو کې د هلکانو له کتابتونونو څخه کتبه واخلي؛ د دوی لپاره بېل یو کوچنی کتابتون جوړ شوی دی، مېز او چوکۍ نه‌لري، د ګوتو په شمېر کتابونه په‌کې موجود دي، خو هغه هم د عمومي مطالعې لپاره نه پرانستل کېږي، بلکې بند وي.
©د پاولا برونستین، د بشري حقونو د څار اداري لپاره

ځکه هیڅ ماشوم هم تر هغه وخته په شاملینو کې نه حسابېږي، تر څو چې یې ښوونځي ته د شاملېدو له مهاله درې کاله نه‌وي اوښتي.

هغه احصایي چې ډېري غوره او دقیقې هم بلل کېږي، ښیي چې ښوونځیو ته د تلونکو نجونو نسبت هیڅکله له ۵۰ سلنې نه‌دی لوړ شوی. د یونیسیف د ۲۰۱۶ کال د جنوری میاشتې د اټکل له مخې، د ښوونځي سن سره برابرو ماشومانو نږدې ۴۰ سلنه ښوونځیو ته لاسرسی نه‌لري. یونیسیف د افغان حکومت د ۲۰۱۰ – ۲۰۱۱ کال د معلوماتو پر بنسټ وایي، چې د ۱۲ او ۱۵ کلونو تر منځ د ثانوي دورې د لومړیو ټولګیو د عمر ۶۶ سلنه نجونې ښوونځیو ته لاسرسی نه‌لري؛ په هلکانو کې دا شمېره ۴۰ سلنې ته رسېږي. په ۲۰۱۶ کال کې سیګار په یوه راپور کې لیکلي وو: د افغانستان پوهنې وزارت منلې چې د ماشومانو لوړه شمېره ښوونځیو ته لاسرسی نه‌لري، خو له‌دې ناخبره دي چې دغه ماشومان څومره، څوک او چېرته دي او شالید یې څه دی. هغه بسپنه‌ورکوونکي چې د خپلو هڅو د بریالیتوب ادعا ته ډېره لېوالتیا لري، ښایي د پوهنې د احصایي په اړه هومره شکمن نه‌وي، څومره چې ورته پکار ده.

ښوونځیو ته د تلونکیو نجونو کره شمېره ځکه اړینه ده چې تر اوسه شوې لوړې او ناکره شمېرو څخه داسې اخیستنه کېږي چې د پوهنې په برخه کې دوامداره مثبت پرمختګ مخ پر لوړه روان دی، خو اصلاً د هېواد په لر. تر لره څو برخو کې ناورین او جګړې رواني دي او مخ پر ډېرېدو دي. د حکومت احصایو له مخې، د ۲۰۱۵ کال په



نجونو په ښوونځي کې د ککړ او خراب تشناب له بوی څخه د ځان ساتلو په موخه پوزې بندې کړې دي؛ پهدې ښوونځي کې نجونې هېڅ ځانګړی تشناب نهلري، د دوی لپاره یوازنی ټاکنه له هغو تشنابونو څخه ګټه اخیستنه ده، چې د ودانۍ په هغه بل سر کې د هلکانو د زدهکړو په ودانۍ کې موجود دي. د دې تشنابونو دروازې کلپ نهلري او له اوبو څخه هم د څو دقیقو په واټن پراته دي.
©د پاولا برونستین، د بشري حقونو د څار اداري لپاره

اوږدو کې په ښوونځیو کې د ماشومان شمېرې مخ په لوړ روانې وې، په داسې حال کې چې دغه لوړوالی له ۲۰۱۱ کال راهیسې په یوه کچه روان او حتی را کم شوی هم دی، یوازې د ۲۰۱۴ په پرتله په ۲۰۱۵ کال کې ۱ سلنه ډېروالی راغلی دی. د نړیوال بانک راپور له مخې له ۲۰۱۱ – ۲۰۱۲ څخه تر ۲۰۱۳ – ۲۰۱۴ پورې په لومړنیو ټولګیو کې د شمولیت کچخ له ۵۶ څخه ۵۴ سلنې ته را ټیټه شوې ده، دا په داسې حال کې ده چې د کلیوالو سیمو نجونې ډېره شمېره له ښوونځیو څخه ایستل شوې دي؛ د حکومت احصایه ښیي چې په ځینو ولایتونو کې د ښځینه زدهکوونکو سلنه ۱۵ ته را ټیټه شوې ده.

د نړیوال بانک ارزونه له یوه ولایته تر بل ولایته مکتب ته د تلونکو نجونو او هلکانو د پرتلې تر منځ پراخ توپیرونه ښیي. دې ارزونې ته په پام، د نجونو شمېر په ځینو ولایتونو لکه کندهار او پکتیا کې مخ په ټیټېدو روان دی؛ دغه نا انډولتوب د بېسوادۍ په احصایه کې ښودل شوی دی. په افغانستان کې یوازې ۳۷ سلنه پېغلې لوستې دي چې دا شمېر په هلکانو کې ۶۶ سلنې ته رسېږي. د بالغو ښځو له منځه ۱۹ سلنه لوستې دي چې دا شمېره په نارینهوو کې ۴۹ سلنې سره برابره ده. اوس چې په هېواد کې امنیتي وضعیت په ټولیز ډول ناوړه دی، ښوونځي بند شوي، ملاتړکوونکو خپلې مرستې بندې کړې، داسې ویل کېږي چې د افغانستان په ځینو برخو کې تعلیم ته د نجونو لاسرسی مخ پر ټیټېدو روان دی.



د کابل په یوه دولتي ښوونځي کې نجونې د لمر له وړانګو د پټېدو په موخه بهر په یوه نمناکه ځای کې زده‌کړه کوي. ګڼ شمېر نجونې په خیمو کې زده‌کړې کوي، خو نورې بیا ان له‌دې سرپناه څخه هم بې برخې دي. دوی له ډېرو ستونزو سره مخ دي؛ ټولګي یې ډېری وختونه د سخت اقلیم، ګرمۍ، یخ، باد، دوړو، واورې او باران له امله رخصت وي.
©د پاولا برونستین، د بشري حقونو د څار اداري لپاره

که څه هم په ټولیزه توګه پرمختګ شوی دی، خو افغانستان اوس هم د زده‌کړو په برخه کې د ښځو پر وړاندې له تبعیض څخه کار اخلي، ځکه چې نجونې زده‌کړو ته محدود لاسرسي لري او د نجونو او هلکانو تر منځ د شمولیت د نااندولتیا له منځه نه وړل او یا ورته پام نه کېږي، په‌دې برخه کې لازم تدابیر هم نه‌دي نیول شوي.

## په افغانستان کې ښوونځیو ته تګ

افغان حکومت د داسې قانون چې زده‌کړې اجباري کړي، د پلي کولو لپاره هیڅ ګټور ګامونه نه‌دي اخیستي. که څه هم په قانون کې ویل شوي چې ټول ماشومان باید تر نهم ټولګی پورې زده‌کړې وکړي، خو حکومت نه دومره وړتیا لري چې ټولو زده‌کوونکو ته په‌دې کچه زده‌کړې برابرې کړي او نه داسې کوم سیستم لري چې په ښوونځي کې د ټولو ماشومانو د شمولیت ډاډ ورکړي. په عمل کې ګڼ شمېر ماشومان زده‌کړو ته هیڅ لاسرسی نه‌لري؛ که زده‌کړو ته لاسرسی پیدا هم کړي، له نهم ټولګي څخه لوړې زده‌کړې نه شي کولای.

که چېرې دا کوچنیان زده‌کړو ته لاسرسی هم ولري، بیا یې هم پرېکړه د میندو او پلرونو په لاس کې ده چې ایا خپل ماشومان ښوونځي ته ولیږي او که نه؟ حکومت کورنیو ته دا و نه‌ښودلای شوه چې ښوونځی د دوی د ټولو ماشومانو لپاره اړین دی او نه یې د دې ډاډ ورکړای شو چې د زده‌کړو سیستم ټول زده‌کوونکي په بر کې نیولای شي. د تعلیم په



د افغانستان د کابل په یوه دولتي ښوونځي کې هلکانو د زده‌کړو پر مهال لاسونه پورته کړي دي. له نویو پېغلو نجونو څخه یوازې ۳۷ سلنه زده‌کړو ته لاسرسی لري، چې دا شمېره له ۶۶ سلنه هلکانو سره برابره ده. د ډېر عمر لرونکو ښځو له جملې ۱۹ سلنه لوستې دي چې دا شمېره له ۴۹ سلنه ډېر عمر لرونکو نارینه‌وو سره برابره ده.

©د پاولا برونستین، د بشري حقونو د څار اداري لپاره

اجباري کولو کې د حکومت پاتې‌والی له نړیوال قانون له مسوولیتونو څخه د افغانستان سرغړونه ښیي او د هغو نړیوالو پرمختیایي ژمنو پر خلاف دی چې د ملګرو ملتونو د پایداره پرمختیایي اهدافو لاندې باید تر سره شي.

په افغانستان کې لومړنی او منځنی زده‌کړې په څلورو عمده ډولونو وېشل کېږي: دولتي ښوونځي چې د حکومتي پرسونل له لوري اداره کېږي، ډېری وختونه د بسپنه‌ورکوونکو له لوري مالي مرستې تر لاسه کوي چې د پوهنې وزارت له لارې ورته رسېږي. د ټولنې په کچه زده کړې یو داسې موډل دی چې له زده‌کړو محرومو ښځو ته په بریالیتوب سره لاسرسی پیدا کوي. دغه زده‌کړې د حکومت د زده‌کړو له سیستم څخه په بشپړه توګه بهر پاتې شوې دي او په بشپړه توګه د مرسته کوونکیو پر مرستو ولاړ دی. مدرسې هغه ښوونځي دي چې په بنسټیز ډول دیني زده‌کړو ته وقف شوي دي، ګڼ شمېر ماشومانو ته ښوونه کوي، خو د حکومت د نصاب بنسټیز مضامین یې په درسي سیستم کې نه‌دي شامل. خصوصي ښوونځي هم شته چې د هغه چا لپاره یو ښه فرصت برابروي چې د فیس د ورکولو توان ولري، فکر کېږي چې دا ښوونځي به په لوړ کیفیت ښوونه وکړي او یا دا چې په داسې سیمو کې موقیعت لري چې هلته حکومتي ښوونځي نه وي.



په کابل کې ماشومان د کورنیو بېځایه شویو لپاره د یوې غیر رسمي مېنې په ناپاکو سړکونو لوبې کوي. کورنۍ بېځایه شوي کسان او راستانه شوي کډوال په‌دې هڅه کې دي چې په خپله نوې مېنه کې خپل ماشومان په ښوونځیو کې شامل کړي، دا بېځایه شوي او راستانه شوي کډوال د پروازونو او بېرته راستنولو له کبله له سختو کړاوونو، شتمنۍ او معیشیت د له منځه تللو سره مخ دي.
©د پاولا برونستین، د بشري حقونو د څار اداري لپاره

## د ښوونځي له سیستم څخه بهر د نجونو د زده‌کړو لپاره خنډونه

د جنسیت پر بنسټ ناوړه دودونه؛ په‌دې معنی چې په ګڼو کورنیو کې د هلکانو زده‌کړې تر نجونو غوره بلل کېږي؛ د نجونو زده‌کړې تر بلوغ یو څو کاله وړاندې وي، خو بیا په ټولیز ډول د منلو وړ او لازمي نه ګڼل کېږي. په هغه هېواد کې چې دریېمه برخه وګړي یې تر ۱۸ کلنۍ په کم عمر کې ودونه کوي، چې د ټیټ عمر ودونو له امله ګڼ شمېر نجونې له ښوونځیو څخه وتلو ته اړ ایستل کېږي. د افغانستان د قانون پر بنسټ د نجونو د واده لپاره تر ټولو ټیټ عمر ۱۶ او یا ۱۵ ښودل شوی دی په‌دې شرط چې د پلار او یا د قاضي اجازه په کې شوې وي. په عمل کې قانون ډېر لږ پلي کېږي، نو له دې څخه په کم عمر کې هم انجونې ودېږي. په کم عمر کې ودول ژور زیانونه رامنځته کوي چې یو یې هم له زده کړو څخه د انجونو محروموال دي. د ماشومانو د ودولو بله ستونزه په کم عمر کې د حاملګۍ له کبله د نجونو او د هغوی تنکیو ماشومانو ته د مرګ په شمول سخت روغتیایي ګواښونه دي. په ماشومتوب کې واده شوې نجونې د هغو ښځو په پرتله ډېرې د کورني تاوتریخوالي قرباني ګرځي چې وروسته ودونه کوي.

بېوزلي هم د ښوونځي له دورې وړاندې په ټیټ عمر کې ګڼ شمېر ماشومان مزدورۍ یا غیر رسمي کارونو ته



دوه ټولګي په داسې حال کې شا په شا زده‌کړې کوي چې تر منځ یې یوازې د رخت یوه ټوټه د جلا کولو لپاره درول شوې ده. که نجونې په ښوونځیو کې شاملې هم شي، دا چې دوی به تر وروستیو زده‌کړې وکړي او که نه، د زده‌کړو په کیفیت پورې اړه لري.
©د پاولا برونستېین، د بشري حقونو د څار اداري لپاره

مجبوروي. د افغانستان لږ تر لږه څلورمه برخه ماشومان چې سن یې له ۵ تر ۱۴ کلنۍ پورې وي، خپلې کورنۍ ته د یوې مړۍ ډوډۍ د راوړلو لپاره کار کوي چې ۲۷ سلنه کارګرو ماشومانو سن له ۵ تر ۱۱ کلونو پورې دی. د نجونو ډېره شمېره د قالینو پر اوبدلو او خیاطي بوختې دي، خو یوه د پام وړ برخه یې په کوڅو کې پر سوالګرۍ او د کوچنیو اجناسو پر خرڅلاو بوختې دي. ګڼ شمېر نورې بیا د کور دننه د خپلو کورنیو سره په کارونو کې بوختې دي. د نجونو په شمول ګڼ ماشومان په داسې کارونو بوخت دي چې د خطرناکه کاري وضعیت او ناکافي حفظالصحې له کبله د ناروغۍ، ټپي کېدو، او ان د مړ کېدو سبب ګرځي. په افغانستان کې ماشومان د اوږدو ساعتونو لپاره په کم یا نشت مزد کار کوي. کار ماشومان اړوي چې د دندې بوج له زده‌کړو سره یو ځای وګالي او یا یې د ښوونځي پرېښودلو ته اړ کوي. د افغانستان د کارګرو ماشومانو یوازې نیمایي برخه ښوونځي ته ځي.

دغه ننګونې بیا له یوه امنیتي وضعیت سره مرکبې شوې دي، په‌دې وروستیو کلونو کې یې ثابته وده کړې ده. وسله‌والې نښتې په ډېرېدو دي، طالبانو د هېواد د ۴۰ سلنه ولسوالیو کنټرول تر لاسه کړی. جګړې د ملکي وګړو، په تیره بیا، د هغو وګړو د ژوند هر اړخ ګواښي چې د جګړو په ساحه کې اوسیږي. د یوناما دفتر پر ملکي وګړو د جګړې اغیزې په مستند ډول ثبت کړي دي چې په‌دې کې هغه زرګونه ماشومان هم شامل دي چې مړه او یا ټپي شوي دي.




دوه خويندې چې ۹ او ۵ کاله عمرونه لري، د کابل پر سړکونو ژاولې خرڅوي، د دوی عايد په ورځ کې تر دوه ډالرو دی. لږ تر لږه ځلورمه برخه افغان ماشومان چې عمرونه يې له ۵ تر ۱۴ کلونو پورې دي، د يوې مړۍ ډوډۍ پيدا کولو لپاره سخت کارونه کوي، دوی د دې لپاره چې له خپلو کورنيو سره مرستندويه وي، په کوچني عمر کې کارونه کوي.
©د پاولا برونستين، د بشري حقونو د څار ادارې لپاره

په جګړه کې هر يوه مړه شوي او يا ټپي شوي ماشوم ګڼ نور له زده‌کړو څخه محروم کړي دي. مخ پر ډېرېدونکيو نا امنيو د کورنيو زړه تور کړی دی او خپل ماشومان له کوره بهر نه پرېږدي او کورنۍ بيا په نا امنه وضعيت کې د هلکانو په پرتله د انجونو لېږل هيڅ نه‌شي زغملای. هغه ښوونځي چې پخوا يو څو ګامه لرې وو اوس ځکه په واټونو لرې ښکاري چې له مور او پلار سره ويره ده چې هلته تګ ډېر زيات خطرناک شوی دی. طالبان او نورې وسله‌والې ډلې ځينې وخت د نجونو ښوونځي، ښځينه زده‌کوونکي او د هغوی ښوونکي په نښه کوي. پر ښوونځيو بريدونه کوي او قيمتي زيربناوې يې ويجاړوي. مرکه‌ورکونکو د بشري حقونو څار ادارې ته په بمونو د ښوونځيو الوزولو، پر ښځينه زده‌کوونکو د تيزابو شيندل او ښوونکو ته د ګواښونو په اړه خبرې وکړې چې يوازې يو بريد هم سلګونه مور او پلار داسې وېرولای شي چې د څو کلونو لپاره خپلې لوڼې ښوونځي ته و نه‌لېږي. د حکومت امنيتي ځواکونه او طالبان دواړه ځينې وختونه ښوونځي ولکه کوي، زده‌کوونکي بهر شړي او له ښوونځي څخه د نظامي اډې په توګه کار اخلي.

په جګړه سربېره؛ بې‌قانوني هم شته چې ښځينه زده‌کوونکي يې له ستونزو سره مخ کړي دي، کله کله ښځينه زده‌کوونکي له ډېرو ناوړو جرمونو سره مخ کېږي چې ډېر وخت په پام کې نه‌دي نيول شوي؛ يو له‌دې جرمونو څخه اختطافونو او جنسي زورونو بېلګې وړاندې کولای شو. د جنايتکوونکو ډلو له لوري د ماشومانو په ګډون د سړي تښتونو راپورونه ډېر شوي دي. لکه د تيزابو د بريد په څېر، سړي تښتونه هم ډېر بداغيز لري، د سړي



۱۰ کلنه نجلۍ په کثافاتو کې ګرځي، تر څو هغه پلاستیکي بوتلونه او نور توکي پیدا او راټول کړي چې بېرته یې خرڅ کړای شي، دا د سهار په ۶:۰۰ بجې له کوره وزي او مازدیګر ۵:۰۰ بجې بېرته راګرځي. دا نجلۍ د دې پر ځای چې ښوونځي ته ولاړه شي، کار کوي، تر څو له خپلې لویې کورنۍ سره مرسته وکړي، ۹ ورونه او ۴ خویندې لري، له دوی څخه یو هم ښوونځي ته نه ځي.
©د پاولا برونستین، د بشري حقونو د څار اداري لپاره

تښتونې یوازې یوه بېلګه په یوه ټولنه کې ګڼې کورنۍ اړ کوي چې خپل ماشومان په تېره بیا نجونې په کور کې وساتي او له زده‌کړو یې راوګرځوي.

جنسي زورونې هم ښوونځي ته په تګ کې خنډونه رامنځته کوي، څرنګه چې پام نه ورته کېږي، مخنیوی یې هم ستونزمن دی، دا د هغو ناوړه جنسیتي نورمونو له کبله دي چې د یوې نجلۍ حیثیت ته سخته صدمه رسوي؛ ان که ښوونځی ډېر نږدې هم وي، د لارې په اوږدو کې د هلکانو او سړیو له لوري جنسي زورونه نجونې د ښوونځي پرېښودلو ته اړوي. هغه کورنۍ چې د نجونو د زده‌کړې په اړه له وړاندې زړه نا زړه وي د زیاتېدونکي ناامنۍ له کبله ډېر اسانۍ دې پریکړې ته رسېږي چې په کور کې د نجونو ساتل غوره دي او یا دا چې د زده کړو پر ځای کار ورته ښه دی.

## د نجونو د زده‌کړو پر وړاندې په ښوونیز سیستم کې دننه پراته خنډونه

د ښوونځیو او ښوونکو، په تېره بیا د ښځینه ښوونکو نشتوالی په دې معنی دی چې نجونې اصلاً ښوونځي ته هیڅ لاسرسی نه‌لري. هلکان هم د ښوونځي له نشتوالي سره مخ دي، خو د لږو ښوونځیو له لوري د نجونو منل او د نجونو پر ازاد تګ راتګ ډېر او ډول ډول بندیزونه لګول، په دې معنی دي چې نجونې په ژوره توګه اغیزمنې



دا نجلۍ د افغانستان د کابل پر سړکونو خیرات ټولوي. ډېرى نجونې د غالیو پر اوبدلو او خیاطۍ بوختې دي، خو اوس لا يې هم یوه لويه شمېره د سړک پر سر کارونو لکه ګدايي او يا په لارو کوڅو کې د اجناسو پر خرڅولو بوختې دي.
©د پاولا برونستين، د بشري حقونو د څار اداري لپاره

شوې دي؛ د ټولنې په کچه زده‌کړو ګټو هغو نجونو ته د زده‌کړو زمينه برابره کړې ده چې ښوونځيو ته نه‌شي تلای، خو د حکومت له ملاتړ پرته دغه سيستم ناانډوله او بې‌پايښته دی.

که څه هم حکومتي ښوونځي فيس نه اخلي، خو د يو ماشوم لېږل نور لګښتونه غواړي؛ په حکومتي ښوونځيو کې کورنۍ اړ دي چې خپلو ماشومانو ته قلم، پنسل، کتابچې، يونيفورم او د ښوونځي بکسې په ګډون يو لړ نور مواد واخلي، ګڼ شمېر زده‌کوونکي داسې هم دي چې بايد لږ تر لږه يو څو درسي کتابونه وپېري. حکومت د درسي کتابونو د چمتو کولو دنده پر غاړه لري، خو اکثراً په وخت نه رسېږي او يا له کمښت سره مخ کېږي چې ځينې وخت يې لامل غلا او فساد وي. په داسې حالاتو کې ماشومان اړېږي چې د زده‌کړو د دوام لپاره له پلورنځيو څخه کتابونه وپېري. دغه غير مستقيم لګښتونه هم تر ډېره د دې لامل ګرځي چې د بې‌وزلو کورنيو ګڼ شمېر ماشومان، په تيره بيا نجونې له ښوونځي څخه وباسي، ځکه هغه کورنۍ چې د يو څو ماشومانو لګښت پرې کولای شي، ډېرى وختونه هلکانو ته غوره‌والی ورکوي.

د زده‌کوونکو ډېروالی، د ښنسټيزو چارو او درسی موادو نشتوالی او کمزورې څارنه د دې لامل ګرځي چې ښوونځي ته تلونکي ماشومان تر خيمې لاندې په داسې حال کې چې کتاب هم نه‌لري، يوازې د دريو ساعتونو لپاره زده‌کړې وکړي. په هغه ځای کې چې ښوونځي ودانۍ لري، د زده‌کوونکو ګڼه‌ګونه ډېره وي، چې پا پايله کې ځينې زده‌کوونکي اړېږي چې بهر تر لمر لاندې او يا په خېمو کې زده‌کړې وکړي. ډېرى وختونه شرايط خراب وي،



د افغانستان د کابل په یوه دولتي ښوونځي کې یوه نجلۍ په شلېدلې خیمه کې چې د ټولګي په ډول ورڅخه ګټه اخلي، ناسته ده. زده‌کوونکي لوړ کیفیت زده‌کړو ته د لاسرسي په برخه کې له ډېرو ننګونو سره مخ دي: لەدې ننګونو څخه ځینې لنډ درسي مهال، ناوړه زیربناوې، د درسي موادو نه‌شتون او نا امني دي.
©د پاولا برونستین، د بشري حقونو د څار اداري لپاره

ودانۍ ویجاړې او یا کاواکه وي، ښوونځي میز او څوکۍ او نور مواد نه‌لري. ګڼه‌ګوڼه او د جنسیت له مخې د زده‌کوونکو جلا کول د دې لامل ګرځي چې ښوونځي په څو وختونو و وېشي، د دې درسي وختونو ته کم وخت ورکړي، چې په دې ډول یوه درسي ورځ د بشپړ نصاب د پلي کولو لپاره کفایت نه‌کوي.

د افغانستان حکومتي ښوونځي ۳۰ سلنه صحي اوبو ته لاسرسی نه‌لري، ۶۰ سلنه یې تشنابونه نه‌لري؛ هغه نجونې چې میاشتنی ناروغی یې پیل شوې وي، په ځانګړي توګه د ناوړه تشنابونو له امله زیانمنې شوې دي. د نجونو لپاره د جلا تشنابونو په نشتوالي کې چې رواني اوبه ولري، دوی د میاشتنی ناروغی د حفظالصحي له پلوه په ښوونځي کې له ستونزو سره مخ کېږي؛ له همدې کبله اړې دي چې د میاشتنی ناروغی پر مهال په کور کې پاتې شي. دا کار د دوی په حاضري کې تشه رامنځته کوي چې د دوی علمي لاسته راوړنې ګواښي او د دې خطر ډېروي چې له ښوونځي څخه په بشپړه توګه لرې شي.

ګڼو شمېر میندو او پلرونو او زده‌کوونکو د ښوونې د کیفیت په اړه ناخوښي ښودلې، ځینې زده‌کوونکي له ټیټې کچې لیک لوست سره فارغ شوي دي. د لوړ کیفیت زده‌کړو پر وړاندې کولو کې ښوونکي له څو ستونزو سره مخ دي: د ښوونځي لنډ درسي وختونه، د ښوونکو کموالی، ټیټ معاشونه، ناوړه بنسټیزې چارې، د درسي موادو نشتوالی او د نا امنۍ اغېزې شاملې دي. د ښوونکي دنده چې د میاشتې له ۱۰۰ ډالرو لږ معاش اخلي، هومره د خوښې وړ دنده نه بلل کېږي او هغه څوک د ښوونکي په توګه ګمارل کېږي چې محدودې زده‌کړه او روزنه یې



په کابل کې د چاودنې ضد کانکرېټي دېوال. پهدې وروستیو کلونو کې د پلازمینې په ګډون د هېواد په ګڼ شمېر نورو سیمو کې امنیت خراب شوی دی، د دې ناامنیو لومړنۍ قرباني ملکیان دي. هغه کورنۍ چې غواړي پر خپلو ماشومانو زدهکړې وکړي، باید ډېر خطرونه په ځان ومني، دوی باید له ګڼو خطرونو سره مخ دي؛ وسلهوالې جګړې، د نجونو د زدهکړو پر وړاندې هدفي بریدونه، په لارو او سړکونو خښ شوي بمونه او چاودنې، تښتونې، زورونه او نور عام جرمونه د یادونې وړ دي.
©د پاولا برونستین، د بشري حقونو د څار اداری لپاره

لیدلې وي. د حساب‌ورکونې نشتوالی په دې معنی دی چې ښوونکي ډېری وختونه غیر حاضر وکړي او د غیر حاضرو ښوونکو په بدل نور ښوونکي هم نه نیول کېږي.

د ښوونکو کمښت په ټولیز ډول موجود دی، کلیوالي سیمو لپاره د ښوونکو په تېره د ښځینه ښوونکو پیدا کول هغه ستونزه ده چې کلیوالي سیمو ته یې د زدهکړو پراختیا په تېره بیا د نجونو لپاره محدوده کړې ده. په داسې حال کې چې د ښوونکو د بستونو اعلان د ۲۰۱۳ څخه په مخکې کلونو کې مخ په زیاتېدو وو، اوس د ځوړ په لور روان دی؛ د ۳۴ ولایتونو له منځه ۷ ولایتونه تر ۱۰ سلنې کم ښځینه ښوونکي لري، په ۱۷ ولایتونو کې د ښځینه ښوونکو شمېر تر ۲۰ سلنې کم دی. د ښځینه ښوونکو کمښت د هغو نجونو پر برخلیک نېغ اغېز لري چې کورنیو یې د نارینه ښوونکو له کبله خپلې لوڼې له ښوونځي څخه ویستلې او کور کې ساتلې دي. د دې موضوع په اړه هم کلک غبرګون ښودل کېږي چې نارینه ښوونکي نجونو ته ښوونه وکړي.

ځینې حکومتي پالیسۍ هم ښوونځیو ته د نجونو راکاږلو هڅې زیانمنوي. حکومتي ښوونځي معمولاً یو لړ اسنادو ته اړتیا لري چې په هغو کې د اساس نمبر او له یوه ښوونځي څخه بل ښوونځي ته د بدلولو رسمي مکتوب شامل دی. دا ښایي یوه ورځنۍ معامله ښکاره شي، خو په جنګ‌ځپلو سیمو کې چې ګڼې کورنۍ له جګړې څخه تېښتي، یو نه او اړېدونکی خنډ رامنځته کوي چې دا کار ماشومان له زدهکړو محروموي. دا چې کورنۍ ماشومان په کوم سن په



د افغانستان په کابل کې تر یوه دولتي ښوونځي اغزن سیم را تاو شوی دی. مخ په خرابېدو نا امني کورنیو ته دا جرات نه ورکوي چې ماشومان يې له کوره ووزي، په تېره په نا امنه شرايطو کې بيا کورنۍ ښوونځي ته د هلکانو په پرتله د نجونو د لېږلو په برخه کې ډېرې زړه نا زړه وي.
©د پاولا برونستين، د بشري حقونو د څار اداري لپاره

ښوونځيو کې شامل کړي، هم دوی شا ته پاتې کړي دي. د هغو ماشومانو په ښوونځي کې د شمول پالیسي چې ناوخته يې ښوونځی پیل کړی وي، په غیر مستقیمه توګه له زده‌کړو څخه د هغوی د لرې کولو په معنی دی، دغه خنډونه بیا د نجونو په برخه کې ځانګړي زیانونه رامنځته کوي، له تبعیضه ډک جنسیتي اصول هغه څه دي چې له کبله يې نجوني د اساس نمبر و نه‌لري او په ډېر عمر کې ښوونځي ته شاملې شي او بیا د همدې لوړ عمر له کبله بیا د هغو محدودیتونو ښکار ګرځي چې پر عمر او د نیمایي کال د حاضری په اړه لګېږي. کله چې کورنۍ د ماشومانو د داخلې او تبدیلې لپاره اړین اسناد تر لاسه نه‌کړي، دوی ډېر لږ زیار باسي چې د نجونو لپاره نوموړي اسناد تر لاسه کړي.

افغانستان له یو میلیون څخه ډېر بې‌ځایه شوي کسان لري چې د وخت په تېرېدو سره شمېرې د لا لوړېدو خوا ته رواني دي. بې‌ځایه شوي کسان ډېری وختونه د نوي مېشت‌ځای په ښوونځیو کې د خپلو ماشومانو د شاملولو لپاره د اړینو اسنادو په تر لاسه کولو کې له نه اوارېدونکو خنډونو سره مخ کېږي؛ هغه کورنۍ چې له نورو هېوادونو څخه د تبعید له کبله بېرته راستنېږي هم له ورته ننګونو سره مخ دي.

د ټولنې په کچه د زده‌کړو پروګرام ډېری وختونه د يوې افغاني نجلی لپاره د زده‌کړو یوازینی فرصت ګرځي. ټولنې ته تر ټولو نږدې ښوونیز مرکزونه پرانیستل، زده‌کړو ته د هغو نجونو د لاسرسي په معنی دی چې ښوونځي ته نه‌شي تللای، څېړنو ښودلې چې د ټولنې په کچه زده‌کړې د ګډون او ازموینو د نمرو د لوړوالي له پلوه، په تېره



د افغانستان په کابل کې څو ماشومان د کورنیو بې‌ځایه شویو کسانو لپاره د جوړې شوې غیر رسمي مېنې د یوه کور له دروازې څخه بهر ګوري. دا هېواد له یو میلیون څخه ډېر کورني بې‌ځایه شوي کسان لري، په داسې حال کې چې دا شمېرې لا هم د لوړېدو خوا ته روانې دي. کورني بې‌ځایه شوي کسان په نوې مېنه کې ښوونځي ته د خپلو ماشومانو د شاملولو لپاره د اسنادو چمتو کولو په برخه کې له داسې خنډونو سره مخ کېږي چې هوارول یې ډېر ګران کار وي.
©د پاولا برونستین، د بشري حقونو د څار ادارې لپاره

د نجونو په برخه کې، خورا اغیزمن دي. د ټولنې په کچه زده‌کړې د نجونو د زده‌کړو پر وړاندې د سیستماتیکو خنډونو د لرې کولو یوازینۍ اغېزمنه ستراتیژي ده چې د نورو تر څنګ ښوونځي ته اوږدې لارې، د لارو نا امني او د ښځینه ښوونکو نشتوالي ستونزې له منځه یوسي. خو تر دې مهاله د ټولنې په کچه زده‌کړې یوازې د غیر دولتي موسساتو له خوا پلي کېږي چې په بشپړه توګه د بهرنیو مرسته‌ورکوونکو له‌خوا تمویلېږي. د حکومت او بسپنه‌ورکوونکو له خوا د اوږدمهاله ستراتیژیک فکر نشتوالی د ټولنې په کچه د زده‌کړو پروګرام او زده‌کوونکي له یو نا اټکل شوي پای سره مخ کړي دي، چې ښایي د زده‌کوونکو راتلونکې وګواښي.

که څه هم د افغانستان د ښوونځیو سیستم هڅې د زده‌کوونکو د اړتیاوو د پوره کولو لپاره ډېرې وختونه له ناکامۍ سره مخ کېږي، خو د معیوبو ماشومانو لپاره زده‌کړو ته د لاسرسي او یا ځانګړې ملاتړ د چمتو کولو په برخه کې ډېره لږه پاملرنه کېږي. د افغانستان ښوونځي معمولاً داسې ځانګړې وړتیاوې نه‌لري چې د معیوبو ماشومانو لپاره ځانګړې زده‌کړې او مرسته برابره کړي. معیوب ماشومان چې په عمومي ښوونځیو کې شاملېږي کومه ځانګړې مرسته نه تر لاسه کوي. د معیوبو ماشومانو لپاره یوازې څو ځانګړي ښوونځي شته چې د زده‌کړو ساحه یې ډېره محدوده ده. دغه ښوونځي داسې سیستم نه‌لري چې د دې ماشومانو اړتیاوې معلومې، ارزیابي او بشپړې کړي، له همدې کبله معیوب ماشومان یا په کور کې ساتل کېږي او یا له زده‌کړو لرې کېږي.



د افغانستان په کابل کې د ټولنې پر بنسټ زده‌کړو پروګرام زده‌کوونکې. دا پروګرامونه د غیر دولتي موسسو په مالي مرسته په‌دې موخه په لاره اچول شوي دي تر څو د ټولنې لپاره د زده‌کړو فرصتونه برابر او د فعالیت تمه یې دا وي چې دولت یې نظارت وکړي. دا پروګرامونه ډېرى وختونه ښوونځی نه، بلکې ټولګی بلل کېږي، ځکه زده‌کوونکي اکثراً په کورونو کې د زده‌کړو لپاره راټولېږي، د زده‌کوونکو شمېره یې هم له ۲۵ تر ۳۰ تنو پورې وي او د یوه واحد ټولګي په توګه پر مخ وړل کېږي. دا پروګرامونه په‌دې موخه را منځته شوي دي، تر څو هغو زده‌کوونکو ته چې له ښوونځیو څخه لېرې پراته دي، د زده‌کړو زمینه برابره کړي.
©د پاولا برونستین، د بشري حقونو د څار اداري لپاره

اداري فساد چې د افغانستان په اکثرو اداره کې ډېر زیات دی، د پوهنې سکټور یې هم له خطر سره مخ کړی دی، دا چاره د رشوت په هغو لویو بېلګو کې ښه ځرګندېږي چې د ښوونکي د دندې له پلټونکو څخه غوښتل شوې دي. د افغانستان نوم د نړۍ د تر ټولو فاسدو هېوادونو په لیسټ کې دی، هغه افغانان چې د افغانستان د درې فاسدترینو ادارو په اړه پوښتل شوي وو، د دیارلسو ادارو تر منځ یې د پوهنې وزارت په نښه کړ. د پوهنې په سکټور کې فساد بېلابېل ډولونه لري چې د رغونې د قرارداد او د هغې په تسلیمي او د قرارداد په نوي کولو کې فساد یې یو څو بېلګې دي. د موادو، وسایلو او معاشونو غلا، د ښوونکو د بست او نورو بستونو په بدل کې رشوت غوښتل، د یو لړ نورو شیانو تر څنګ د نمرو په بدل کې د رشوت غوښتل، د زده‌کوونکو د نوملیکنې او د اسنادو د چمتو کولو په بدل کې رشوت غوښتل کېږي؛ خیالي ښوونځي او ښوونکي چې معاشونه یې اخیستل کیږي او مصارف یې تېرېږي خو حقیقي شتون نه‌لري.

### په افغانستان کې د ملاتړکوونکو له لوري د زده‌کړو ملاتړ

په‌داسې حال کې چې افغانستان په دې وروستیو کلونو کې د نړۍ د ملاتړ کوونکو تر ټولو ډېرې مرستې تر لاسه کړې دي، خو د دې بهرنیو پراختیایي مرستو یوازې له ۲ تر ۶ سلنه برخه د پوهنې په سکټور لګول کېږي.



د افغانستان په کابل کې د ټولنې پر بنسټ زده‌کړو پروګرام زده‌کوونکې. دغه پروګرام ډېری وختونه د افغان نجونو لپاره د زده‌کړو یوازینی فرصت بلل کېږي، د دې تر څنګ دا پروګرامونو د هغو ستونزو لپاره چې د نجونو د تعلیم پر وړاندې پرتې دي، یوه موقتي حل‌لاره ده؛ نجوني له ځینو سیستماټیکو خنډونو لکه: د ښوونځیو لېرېوالی، په لارو کې ناامنی او د ښځینه ښوونکو نه‌شتون سره مخ دي.
©د پاولا برونستین، د بشري حقونو د څار اداري لپاره

بروکراټیکې ستونزې، ټيټه وړتیا، فساد او نا امني ان د دې لامل ګرځېدلې دي چې افغان حکومت دغه مرستې په سمه توګه او په ځای و نه شي لګولای؛ حکومت د نړیوالو معیارونو د سپارښتنو پر خلاف د کورنې ناخالص تولید او د ټولټال ملي بودجې په نسبت پر پوهنه لږ مصرف کړی دی، دا خبره تر یو ځایه دا حقیقت څرګندوي چې ملاتړ کوونکيو څه ډول خپلې مالي مرستې تخصیص کړې دي.

د ۲۰۱۶ کال د نومبر په میاشت کې د افغانستان حکومت او ملاتړ کوونکو هېوادونو تر منځ د افغانستان په اړه د بروکسل کنفرانس را وبلل شو، په‌دې کنفرانس کې ملاتړ کوونکو د ۱۵,۲ ملیارده امریکایي ډالرو د مرستې ژمنه وکړه چې په راتلونکو څلورو کلونو کې به یې افغانستان ته ورکوي. د کنفرانس رابلونکو هدف دا وو چې د بهرنیو مرستو دوام په اوسنی او یا دې ته په نږدې کچه کې وساتي او دا مبلغ داسې وپېژندل شو چې ګوندې دې هدف ته د رسېدلو استازیتوب کوي.

که څه هم په بروکسل کنفرانس کې لویې ژمنې وشوې، خو په افغانستان کې د مرستو ټولیز تصور مخ پر ځوړ روان دی؛ غیر دولتي موسسې راپور ورکوي چې د مرستو د کمېدو اغېز دوی ډېر احساس کړی دی او له وړاندې د هغو ګڼ شمېر نجونو زده‌کړې یې اغېزمنې کړې دي چې د حکومت له پوهنیز سیستم څخه بهر په کلیو او د هغو نجونو لپاره پلې کېدې چې دولتي ښوونځیو ته یې لاسرسی نه‌درلود. په داسې حال کې چې د راکمېدونکو مرستو پر وړاندې د حکومت امنیتي مصارف مخ په لوړېدو دي، په راتلونکي کې به د نجونو پر زده‌کړه لا زیاتې اغېزې وښندي.



د افغانستان د کابل په یوه دولتي ښوونځي کې یوه ۱۲ کلنه نجلۍ د درس پر مهال درول شوې ده. دا ټولګی په خیمه کې زده‌کړې کوي.
©د پاولا برونستین، د بشري حقونو د څار اداري لپاره

د مرسته کوونکو په مرستو کې یو بل بدلون چې د نجونو پر زده‌کړو یې اغیز وکړ، هغه وخت پیښ شو چې په ۲۰۱۴ کال کې نړیوال ځواکونه له ولایتونو ووتل او خپلې مرستې یې هم له ځانه سره وېوړې. د دې ځواکونو د سیستم پر بنسټ چې وړاندې د ناټو د نظامي قوماندانۍ له خوا پلي کېدل، ټاکلو هېوادونو چې افغانستان ته سرتېري رالېږلي وو، په هر ولایت کې یې د ولایتي بیا رغونې د ټیمونو په بڼه امنیتي مسوولیتونه درلودل. دې هېوادونو معمولاً په اړوند ولایت کې پر پراختیایي مرستو لکه زده‌کړو پانګونه کوله. کله چې سرتېري له‌دې ولایتونو څخه ووتل، دغه مالي مرستې یې هم له ځانه سره وېوړې. پایله یې دا شوه چې یو لړ ولایتونه او په تېره بیا هغه چې ډېرې مالي مرستې یې تر لاسه کولې د مالي مرستو له سخت کمښت سره مخ شې.

## حقوقي مسوولیتونه

زده‌کړه هغه بنسټیز حق دی چې په بېلابېلو نړیوالو تړونونو کې هم راغلي دي چې د افغانستان له‌خوا منل شوي، له‌دې تړونونو څخه یو هم د ماشومانو د حقونو کنوانسیون (CRC)، د اقتصاد په اړه نړیوال کنوانسیون، ټولنیز او فرهنګي حقونه شامل دي. افغانستان د ښځو پر وړاندې د هر ډول تبعیض د له منځه وړلو کنوانسیون (CEDAW) هم منلی دی چې په‌دې کنوانسیون کې هغه مسوولیتونه شامل دي چې د زده‌کړو په شمول له نارینه‌وو سره د ښځو ټول مساوي حقونه ډاډمن کړي.



یوه ۱۲ کلنه نجلۍ د بېځایه شویو کسانو په یوه نارسمي مېنه کې په خپل کور کې. دا نجلۍ په ۹ کلنۍ کې یوازې ۱۰ ورځې ښوونځي ته تللې ده، بېرته یې ښوونځي پرېښوده او کار یې پیل کړ، تر څو له خپلې کورنۍ سره مرسته وکړای شي، هغه زاړه کارتونونه راټولوي او بیا یې خرڅوي. که څه هم دولتي ښوونځي فیس نه غواړي، خو د ماشومانو لېږل یو لړ نورو مصرفونو ته اړتیا لري؛ قلم، پنسل، کتابچې، یونیفارم او د ښوونځي بکسه د دوی له دې مصارفو څخه شمېرل کېږي.
©د پاولا برونستېین، د بشري حقونو د څار اداري لپاره

نړیوالو بشري حقونو ته په کتو؛ هر سړی کولای شي چې وړیا، اجباري او لومړنی زده‌کړې له تبعیض پرته تر لاسه کړي؛ نړیوال قانون دا هم په ګوته کوي چې ثانوي زده‌کړې هم باید په ټولیز ډول د خلکو په واک کې وي او ټول لاسرسی ورته ولري.

حکومت باید زده‌کړو ته د لاسرسي برابروالی تضمین کړي او په زده‌کړو کې تبعیض له منځه یوسي. افغانستان یو مسوولیت پر غاړه لري چې هغه زورونې له منځه یوسي چې له ټولنیزو او فرهنګي دودونو څخه رامنځته کېږي. د بشري حقونو څار اداره په حکومت غږ کوي چې پر ښځو هغه حقوقي او ټولنیز بندیزونه له منځه یوسي چې دوی پخپلو کورونو کې ورسره مخ دي او هغه قوانین هم عملي کړي چې د نشتوالي له کبله یې په افغانستان کې د نجونو د یو غیر متناسب شمېر تګ ښوونځي ته له خنډونو سره مخ دی.

نړیوال قوانین حکومت مسوول ګڼي چې ماشومان له کم عمره ودونو، زیانمنو کارونو، په زده‌کړه کې د لاسوهنې او ماشومانو ته د روغتیایي یا فزیکي، ذهني، رواني، اخلاقي او ټولنیز پرمختګ پر وړاندې پرتو زیانمنو دودونو څخه وژغوري. معیوب ماشومان حق لري چې ځانګړو زده‌کړو ته لاسرسی پیدا کړي او د خپلې ټولنې له غړو سره په برابره کچه زده‌کړې وکړي.



نجوني د افغانستان د کابل یوه دولتي ښوونځي په انګړ کې لوبې کوي.
©د پاولا برونستین، د بشري حقونو د څار اداري لپاره

د زده کړو په اړه د خپلو مسوولیتونو په تر سره کولو کې باید حکومت څلور معیارونه په نظر کې ونیسي: چې له شتون، لاسرسي، قبولیت او د شرایطو چمتو کولو څخه عبارت دي. زده‌کړې باید په ټول هیواد کې له کافي او با کیفیته ښوونیزو زیربناو سره یو ځای په هر ځای کې وي او هر څوک یې په برابره کچه تر لاسه کړای شي. پر دې سربېره، د زده‌کړو بڼه او منځپانګه باید منل شوي او غوره کیفیت وي او د زده‌کړو کم تر کمه معیارونه پوره کړي، چمتو شوې زده‌کړې باید د هغو زده‌کوونکو له اړتیاو سره همغاړې وي چې له بېلابېلو ټولنیزو او فرهنګي چاپېریالونو څخه راغلي دي.

حکومت باید ډاډ ورکړي چې  د صلاحیت په اډانه کې یې د زده‌کړو فعال تاسیسات او پروګرامونه له کافي کیفیت سره شتون لري. په‌دې فعالو ښوونیزو تاسیساتو کې باید ودانۍ، د نارینه او ښځینه زده‌کوونکو لپاره د حفظالصحې اسانتیاوې، د څښلو  صحي اوبه، روزل شوي ښوونکي چې په ملي کچه مناسب معاشونه تر لاسه کړي، درسي مواد او د امکان تر بریده د کتابتونونو، کمپیوټر اسانتیاوې او معلوماتي ټیکنالوژي ولري. په‌دې خبره ټول پوهېږي چې زده‌کړې د حق د تر لاسه کولو په لار کې هر ډول ګټورې هلې ځلې باید د زده‌کړو کیفیت ته د یو مهم لومړیتوب په سترګه وګوري.

د افغانستان حکومت باید د اړتیا وړ قانوني، اداري، ټولنیزو او پوهنیزو تدابیرو څخه په کار اخیستلو له فزیکي او ذهني تاوتریخوالي، ټپي کېدو یا ناوړه استفادې، له بې پروایۍ ډک چلند او ناوړه چلند څخه د ماشومان د ژغورلو

يو بل حقوقي مسووليت هم پر غاړه واخلي. جسمي سزا ته اجازه ورکول له نومړو مسووليتونو سره په ټکر کې دي.

د تېرو ۱۶ کلونو په جريان کې د افغانستان حکومت او د هغه نړيوالو ملاتړ کوونکو ښوونځيو ته د نجونو په راکاږلو کې د پام وړ پرمختګ کړی دی. خو جدي خنډونو اوس هم د نجونو يو لوی شمېر له ښوونځي څخه حصارې کړي دي او يو رښتينی ګواښ موجود دی چې ښايي دا وروستی لاسته راوړني بېرته له ګوتو وباسي.

له همدې کبله اړينه ده چې افغان حکومت او نړيوال مرستهکوونکي د نجونو د زدهکړو پر وړاندې پرتو هغو خنډونو د لرې کولو او يا جبرانولو لپاره هلې ځلې ګړنی کړي چې پهدې راپور کې يادې شوي دي، تر څو په افغانستان کې د لومړنيو او منځنيو زدهکړو لپاره دانجونو حقونه خوندي کړي.

# کلیدي سپارښتنې

## افغان حکومت ته

- لومړنی او منځنی زده‌کړو ته د نجونو د لاسرسي او د پایداره اقتصادي اهدافو ۴,۱ مقصد د تر لاسه کولو لپاره له نړیوالو مرسته ورکونکو سره یو ځای کوټلي ګامونه پورته او ډاډ ورکړي چې تر ۲۰۳۰ کال پورې به ټولې نجونې او هلکان بشپړو وړیا، مساوي او باکیفیته ابتدایي او ثانوي زده‌کړو ته لاسرسی ولري.
- په تدریجي ډول په ټول هېواد کې زده‌کړو ته د لاسرسي په پراخولو، عامه پوهونې د ستراتیژیو، د ټولنې د رهبرانو په راښکېلولو او ښوونځي ته د نه تلونکو ماشومانو او د هغوی د کورنیو د په نښه کولو او ښوونځي کې د شاملولو تر څنګ په ټول هېواد کې اجباري زده‌کړو ته لاره هواره کړي. داسې لارښودونه جوړ او عملي کړي چې حکومتي ښوونځي د اجباري زده‌کړو د عمر ټولو ماشومان داخلولو ته اړ او لږ تر لږه یې ثانوي زده‌کړې تکمیل کړي.
- لکه څنګه چې د پایداره پرمختیایي موخو په ۵,۳ فقره کې راغلي دي، په چټکه توګه د عملیاتي پلان له پلي کولو سره د ماشومانو ودول ودروي او د ۲۰۳۰ کال د دې کار لپاره وروستی هدف وګرځوي.
- د ولایتونو په کچه د ماشومانو د ساتنې د عمل شبکې ونډه پیاوړې کړي او دا دنده ورکړي چې ښوونځیو ته د نه تلونکو ټولو ماشومانو ارزونه وکړي. د دې ډاډ ورکړي چې روزونکي، ټولنه او محلي حکومت چارواکي د ماشومانو د ساتنې د عمل شبکې له فعالینو سره کار وکړي؛ له خطر سره مخ ماشومانو ته د ساتنې او ملاتړ خدمات برابر کړي چې له ښوونځي څخه پاتې شوي، په کم عمر کې د واده له خطر سره مخ دي او یا درانه کارونه کوي.
- د ښوونکو لپاره په ملي کچه مناسب معاشونه برابر کړي چې د دوی له دندو او مسوولیتونو سره برابر وي او د ښوونکو او په تېره بیا د ښځینه ښوونکو د هڅولو لپاره مالي امتیازات چمتو کړي، تر څو د هېواد په لرې پرتو او شاته پاتې سیمو کې د خدمت وړ وګرځي.
- ټول نوي ودان شوي ښوونځي باید خپل چاپېره کافي دیوالونه، تشنابونه او د څښاک پاکې اوبه ولري او په هغو ښوونځیو کې چې دغه اسانتیاوې نشته ژر تر ژره یې په کې جوړې کړي.
- ښوونځیو ته د اړینو موادو په برابرولو، د یونیفورم د اړتیاوو د له منځه وړلو، د درسي کتابونو د چمتو کولو لپاره د سیسټم د اصلاحاتو، د لا ډېرو ښځینه ښوونکو ګمارلو او د نویو ښوونځیو ودانولو او بیا رغولو له لارې وړیا لومړنیو او ثانوي زده‌کړو ته د لاسرسي زمینه برابره کړي.
- افغان نظامیانو، پولیسو او حکومت پلوه ملیشو په شمول ټولو افغان امنیتی ځواکونو ته حکم وکړي چې د نظامي اهدافو لپاره د ښوونځیو له کارولو ډډه وکړي.